مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۷/۱۳

# «ستلُج» فلم

# او

# زما دایرى

له تېرو څو ورځو راهيسې د **«ستلج»** په نوم فلم د ټولنيزو رسنيو، ادبي کړيو او د بشري حقونو د فعالانو ترمنځ د بحث توده موضوع ګرځېدلې ده. که يوټيوب ته ورسم، فيسبوک ته ورننوځم، ورځپاڼې لولم بس همدغه د «ستلُج» کيسې دي. تر څنګ مې تل پرته ډايرى هم هر څه راسره ويني او تر ما بدتره د انسان د حيوانيت په اړه په فکرو کې ډوبه سي.

نن ئې په سترګو کې عجيبه تقاضا ځلېدل. د هغې د سترګو په رمازه پوه سوم چې څه غواړي. پر چيغه مې کړه:

«ته لېونۍ سوې يې که څه بلا؟ زندان ته مې غواړې واستوې که قبر ته؟ بخښنه غواړم! پر دې موضوع څه نه سم ليکلاى! بيا راته و نه وايې، بس خلاص! پر هغه سرې چې د همدې فلم کيسه ولاړه ده، هم ونيول سو، هم بې محکمې ووژل سو.»

بيا مې لړ ږغ کرار کړ، ورته ومې ويل:

«ګوره، دا ښځايه غوښتنې پرېږده! که د ميني شعر راڅه وغواړې، سمدستي به ئې درته وليکم. که د ګل، باران، سپوږمۍ او عاشقۍ خبرې وي، سل پاڼې به دې توري کړم. خو دا خبرې؟ دا موضوع نه ده، دا د باروتو ډک ميدان دئ.»

که حکومت مې بندي نه کړي، ژوند به ښه سم را تريخ کړي. حکومت خو هلته پرېږده، زموږ خلک مې والله تر وهلو په ځغلولو سترى کړي! يو به وايي زموږ د ګوند پر خلاف دې وليکل، بل به وايي زموږ د تحريک سپکاوى دې وکړ، دريېم به وايي د نظام مخالف يې، څلورم به وايي د حکومت ملاتړ نه کوې. لنډه دا چې هر څوک به يو دليل پيدا کړي چې پر ما بېچاره قلموال به په پېخر لعنت ووايي.»

نو په پرېکنده توګه مې ورته وويل:

«نه! پر دې موضوع به يو تورى هم ونه ليکم. تر تېره سه، خبره ختمه!»

ډايرى لږ شېبه غلې سوه. وروسته په طعنو سوه:

«ته هم ځان اهلِ قلم بولې؟»

سر مې کښته سو.

بيا ئې وويل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

«نو داسي وکړه چي دا قلم دي مات کړه او پر ځای ئي بنګړي په لاس کړه. نن خو هغه ښځي چي بنګړي ئي په لاسو دي، تر تا په ډېر جرئت لیکني کوي. ته څنګه ځان قلموال بولې؟ یا ما څیري که او اور ته مي واچوه، او یا هم کښېنه او وې لیکه!»

رشتیا دا دي چي کله یو سړی له خپلي ډایرۍ څخه د بې غیرتی پېغور واوري، نو نور به د انکار کولو جرئت څنګه ورته پاته سي. نو مي قلم راواخیست او د ډایرۍ په سینه کي مي لیکل شروع کړه:

۱۰ د جولای ۲۰۲۶

ګراني ډایرۍ!

«ستلُج» فلم، چي اول ئي نوم **Punjab 95** وو، د هندي سینېما هنرمند دلجیت دوسانج هغه جدي هنري تجربه ده چي د جسونت سینګ کالړا د ژوند او مبارزې کیسه انځوروي. کالړا هغه انسان وو چي د پنجاب د زرګونو ورک سوو یا هم غایب کړل سوو کسانو د دوسیو تر شا د حقیقت د موندلو لپاره ودرېد، په داسي حال کي چي پوهېدی د همدې حقیقت بیه به ښایي د ده په ژوند تمامه سي.

د فلم په اړه مي دومره لیکني ولوستلې چي زړه مي سو ژر تر ژره ئي پیدا کړم. ډېر کوښښ مي وکړ چي فلم وګورم، خو هر ځل به چي په یوټیوب کي چا پورته کړی وو، څو شېبې وروسته به ببرته حذف سو. کله به شل دقیقې وکتل سو، بیا به ورک سو، بل ځل به مي بل کانال کي پیدا کړ، چي دا ما به شروع کړ هلته به یوټیوب ببرته لیري کړ. عجیبه دا وه چي هر ځل د فلم حذف کېدل زما تلوسه لا پسي زیاتوله. د هند حکومت وایي د دې فلم کیسه د ۱۹۸۵ او ۱۹۹۵ م. کلونو تر منځ ده، خبره پخوانۍ ده نور اهمیت نه لري. نو که کیسه دومره بې ارزښته وي، ولي ئي د پټولو هڅه کېږي؟

خو تر دې فلم هم زیات، زما ذهن خپل وطن ته ولاړ.

ما ته د پنجاب کیسه نوې نه ښکارېده. ما پکښې د افغانستان د تېرو پنځوسو کلونو انځور لیدی.

زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کي حکومتونه بدل سول، بیرغونه بدل سول، شعارونه بدل سول، ایډیالوژۍ بدلې سوې، خو یوه خبره بدله نه سوه؛ هغه دا چي انسان به کله نا کله له قانون څخه ورک سو. نه محکمه وه، نه مدافع وکیل، نه د دفاع حق، نه و کورنۍ خبرتیا بس یو شپه به څوک راغی، یو انسان به ئي په زوره له کوره کش کړ او بیا بې د تل لپاره پسي ورک کړ.

د اول جمهوریت له قتل وروسته د نوي رژیم پر مهال زرګونه دیني عالمان، پوهان، لیکوالان، استادان، شاعران او سیاسي مخالفین یا ووژل سول او یا داسي ورک سول چي تر نن ورځي ئي اولادونه د قبر په ادرس پسي ګرځي. د عبدالغفار بریالي نوم چي یادېږي، سینه مي درنه سي. د عبدالرب اخوندزاده نوم چي واوري، د یوې زماني د علم یاد درسره تازه سي. او د موسی شفیق نوم...اوف، پر زړه مي داغ څه کوې چي ناسور دئ. دا خو هغه نومان دي چي پر خوله مي راغله، په زرهاوو نور نېک انسانان تورو ښامارانو تېر کړل.

له بده مرغه، د هغه نظام له پای ته رسېدو سره دا لړۍ ونه درېده.

د کورنیو جګړو پر مهال هم د غچ، انتقام او سیاسي دښمنۍ په نوم ډېر کسان ووژل سول. ډله ییز قبرونه د افغانستان د معاصر تاریخ یوه اوږده توره ترخه پانه ده. قربانیان بدل سول، خو د مرګ طریقه هماغه پاته سوه.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، که څه هم افغانستان د قانون، اساسي قانون او ډیموکراسۍ خبري کولې، جګړې بیا هم د قانون په سیوري کي رواني وې. د بېلابېلو لورو له خوا د غیرقانوني زندانونو، شکنجو او له محکمي پرته د وژنو په اړه ګڼ راپورونه خپاره سول. په همدې وخت کي د دوی مخالفینو هم سلګونه ښوونکي، ډاکټران، انجینران، قومي مشران، ژورنالیستان او هغه عام خلک ووژل چي د دوی په اند ئي له حکومت، بهرنیو ځواکونو یا مرستندویو ادارو سره اړیکه درلوده. ډېري کورنۍ لا هم نه پوهېږي چي کومي خاوري وشني او د خپلو عزیزانو هډوکي پکښې ومومي.

د ډیورنډ کرښې بلې غاړې ته هم د زرګونو پښتنو او بلوڅو کورنیو کیسه له همدې درد سره تړلې ده. داسي کورنۍ سته چي کلونه کېږي د خپلو زامنو، ورونو او پلرونو عکسونه په لاسو کي ګرځوي، دولتونو ته په زاریو دي چي لږ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

تر لږه ئې د مړه یا ژوندي حال خو ورکړي. ډېر کم ښېرته د مړي په بڼه راستانه سوي دي، خو ډېر زیات داسي هم دي چي تر ننه ئې د برخلیک درک نسته.

په همدې فضا کي یو سرې خولی والا ځوان او د هغه ملګرو د ورکو سویو کسانو د قضیې ړ.غ پورته کړ. که څوک ورسره موافق وي او که مخالف، یوه خبره نه سي انکارولای، همدوی دا خبره برملا کړه، د دوست او دښمن پر ژبو ئې ګویا کړه. هغوی خلکو ته دا ورپه یاد کړل چي هر ورک سوی انسان یوازې یو نوم نه دئ، تر شا ئې مور، مېرمن، څو ماشومان او بسته کورنۍ په تمه ناسته ده ، چي د هیلو او نااميدئ ترمنځ زنګېږي.

کله چي د **«ستلج»** فلم کیسه لولم، احساس کوم چي دا یوازي د پنجاب فلم نه دئ. دا د هر هغه انسان فلم دئ چي قانون ترې مخ اړولی دئ.

هغه څه چي زه ئې ډېر حیران کړم، هغه دا وه چي هند خو ځان د نړۍ تر ټولو لويه ډیموکراسي بولي. که ډیموکراسي پر خپلو خلکو باور ولري، نو باید د یوه فلم څخه ونه ښېرېږي. فلمونه د حکومتونو تختې نه نسکوروي؛ فلمونه یوازي پوښتني راپورته کوي. که یو فلم د درې کلونو لپاره بند پاته کېږي، لسګونه بدلونونه ځني غوښتل کېږي او بیا هم د خپرېدو څو ساعته وروسته حذفېږي، نو دا پوښتنه را ولاړېږي چي له یوه فلم څخه دومره ښېره ولي؟ جواب ئې په اغلب ګومان دا دئ:

ځکه هنر هغه څه کولای سي چي سلګونه رسمي راپورونه ئې نه سي کولای.

فلم، ناول، شعر او کیسه کله ناکله هغه حقیقت ژوندی ساتي چي سیاست ئې تر خاورو لاندي کولو هڅه کوي.
زه باور لرم چي یوه ورځ به زموږ د وطن پر ورکو سوو انسانانو هم فلمونه جوړېږي. د موسی شفیق رول به هم یو ځوان لوبوي.

د هغو زرګونو بې نومه قربانیانو په اړه به هم کیسي ولیکل سي چي تر اوسه ئې د قبر ځای نه دئ معلوم. د هغو میندو په اړه به هم فلمونه جوړ سي چي تر اوسه د دروازې د ټک ړ.غ ته غوږ دي. هغه وخت به هم کوم څوک د حقیقت له خپرېدو وډار سي. هغه فلمونه به هم بند سي. د حافظې د وژلو هڅه به وسي خو...حقیقت ځنډېدلای سي، خو مړ کېدلای نه سي... تر ټولو قوي سانسور هم د انسان حافظه نه سي وژلای... او تر ټولو لوی زندان هم د یوې ریښتینې کیسي سفر نه سي درولای...

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولــئ